**دافغانستان دخلکو آزادي بخښونکی سازمان(ساما)**

**۳۱ دســـمـــبـــر ۲۰۱۷**

# دمرغومي شپږمه توره او کرغیړنه ورځ

زموږ پر ګران هېواد دپخواني تش په نامه سوسیالیستي هیواد دتیري څخه اته دیرش کاله تېرېږي. ددې ناتار له امله زمونږ ویرژلي اوغم لړلي ولسونه او وګړي په ډېرو ربړونواو کړاوونواخته شول، چې لاتر اوسه هم ددغو ناخوالواو تاړاکونو اغیزې دبیوزلو وګړو ژواک دستونزو او کړاوونو سره مخامخ کړی دی. دروسانو دغه له شرمه ډک یرغل د دوو لسیزو هلوځلو او دهغوی دلاسپوڅو(خلقیانو ـ پرچمیانو) دغداری پایله بلل کیږي.

په لومړي سر کې دټولنیزو ښکارندو دذات څخه دناپوهی له امله، پر افغانستان باندی دسوسیال امپریالیسم تېری، هسې په تشه دروسانو دځواکمنی نښه وانګیرله شوه. دا ځکه چې پر هغه مهال روسانو دنړی په ډېره ویړه او ارته سیمه کې پوځي او سیاسی برلاسی او واکمني درلود، خو دپانګونې ځواک دنشتوالې له امله ونه شو کړای چې ددې سیمو څخه په بشپړه توګه ګټه واخلی. نو دبیوزلی څخه دخلاصون په موخه دتېري او ښکیلاک لاره غوره کړه.

ددوهمې نړی والې جګړې او په تېره بیا داستالین دمړینې (۱۹۵۳زئیځ کال) څخه وروسته، «شوروي» په اقتصادي برخه (کرهڼه او صنعت) کې دمادي هڅونو پر بنسټ دخروشچف داصلاح غوښتنې سیاست، ونشو کړای چې دهېواد ویجاړ اقتصادي ستونزو ته دحل لیاره ومومی. همدا ډول دکار څخه دګټې په تمه دخروشچف دځایناستو سیاست هم دماتې سره مخامخ شو. نو له دې امله داقتصادي ستونزو ـ لکه: کرهڼیز تولیدي ګډودي(بحران)، دصنعتي تولیداتو په ټپه ودریدل، د تولیداتو د کیفیت ټیټوالی، ورځ تر بلې د اداري فساد زیاتوالی او پر پوځي تولیداتو باندې ډېره پاملرنه ـ د«شوروي» دولت واکمنان دنوموړو ستونزو دله مینځه وړلو په تمه دې ته اړ کړ چې«ختیځ خواته دغځیدنې سیاست» در اخپلولو تر اغیز دپوځي یرغل لاره غوره کړي.

دغوایې کودتا دناورین څخه وروسته زمونږ تورزن او اتل ولس دروسیې دګوډاګیانو پر وړاندې ـ دهېواد پالنې تر اغیز او دولسي واکمنی دلاسته راوړلو په موخه ـ دنورو د پارونې او هڅونې پرته ـ پخپل سر په بدخشان، نورستان او پکتیا کې پاڅون وکړ. دمرغومي په شپږمه نېټه دروسي پوځیانو یرغل دجګړې اور دلمبو دلاپسې زیاتیدو لامل وګرځید، چې تاو او وړانګې یې دهیواد نورو سیموته په ډېره بېړه وغځیدې. دخپلواکی او آزادی دلاسته راوړلو لپاره زمونږ داتل ولس ټینګار او سرښندنې په تاریخ کې بې ساری دی.

زمونږ دميږنيو وګړو دبې ساري سربښندنو له برکته او دروسيې په تاوان نړۍ وال بدلولونه «سره پوځونه» يې دې ته اړ کړل چې دافغانستان څخه په شرميدلي توګه ووځي. او د«ورونو سوسياليستي» هيوادونو لپاره دبرژنف د«محدودې واکمنۍ» دکتورين په نوموړو هيوادونو کې دخپلواکۍ غوښتنې احساسات راوپارول؛ چې پورتني ذکر شوي فکتورونه د«شوروي» دټوټه ټوټه کيدلو لاملونه ګڼلی شو. د«شوروي» دولت دشل ميلياردو دالرو په لګښت او دوګړيزو تاوانونو سره سره پر افغان ولس ددې راتپل شوي جګړې څخه دويجاړۍ پرته، هيڅ کومه ګټه پورته نه کړه. خو افغان ولس ته ـ دنه جبرانيدونکو وګړيزو او مادي تاوانونو سره سره ـ يو ځل بيا تاريخي وياړ ورپه برخه شو. او همدا ډول دنړۍ وګړواو دښکيلاکګرو تر ښکيل لاندې هيوادونو ته دا الواک او ګروهه جوته شوه چې ځواکمن پانګه وال امپرياليستي هيوادونه ـ د ډيرو پانګو په لګښتاو دپرمخ تللي تکنالوژۍ کارونه ـ نشي کولای چې ويښ او زړور ولسونه تر خپلې ولکې او ښکيلاک وساتي.

خو په ډېره خواشينۍ سره دروسي امپرياليسم دماتې په پايله، رښتينی برياليتوب او لاسته راوړنه زمونږ د زيارکښو او ويرژلو خلکو په برخه نشو. دا ځکه چې دروسيې ضد ـ نابرابره ـ آزادی بخښونکې جګړې په بهير کې دامريکې امپرياليسم، زمونږ هيواد تر خپلې ولکې لاندې دنيولو او دپوځي اډود جوړولو په موخه، خپل ګوډاګيان او لاسپوڅو ته بې کچه او هر اړخيزه مرسته وکړه او دسيمې دارتجاعي دولتونو او ډلو ټپلو په مرسته زمونږ دولس آزادی بخښونکې خوځښت يې دبې لارۍ وخواته واړوه.

د«شوروي» ناڅاپه دړې وړې کيدلو وړاند وينه دپانګه والۍ نظام دپلويانو په انګيرنو کې هم نه وه راغلې. دغه پيښه دامريکا امپرياليسم وهڅوه چې ختيځ اروپايي او دمنځنۍ آسيا هيوادونو ته پاملرنه وکړی او افغانستان ديوې ستراتيژيکې سيمې په توګه وپيژني. تر دې وروسته امريکا د«ليبرالی زغم» پر ځای د جګړې او دبيوزلو او وروسته پاتې هيوادونو تر خپلې ولکې لاندې راوستلو سياست غوره کړه. نو ځکه د۲۰۰۱ کال د سپتمبر په مياشت کې پر افغانستان يرغل وکړ او دبې بنسټو دلايلو په پلمه زمونږ ګران هيواد يې تر خپلې ولکې لاندې راوست. او دخپل بربنډ تېري دپټولو او دنړيوالو دغولولو لپاره د بُن کنفرانس داير کړ او هغه داړه مارې ډلې ټپلې دځواک پر ګدۍ کښيناوه چې لاسونه يې زمونږ دبې ګناه خلکو په وينو ککړ ول.

ددې«نه ماتيدونکی» ښامار الواک چې دروڼ اندو، انقلابيونو او دزيارکښو پرګنو دنيمايي لارې ملګرو پر ذهنونو اغيز ښندلی او داسې انګيرنه يې مينځته راوړی چې ګواکې ددې زبرځواک ماته ناشونی چار دی. خود ديالتيک داصولو پر بنسټ ټولې پنځيزې او ټولنيزې ښکارندې ناموزونه وده لري او دبشپړتيا لوړې څوکې ته درسيدو ځخه وروسته ځوړې لورې ته يون مومي. دپانګوالۍ نظام هم نشي کولای چې ددې قانون داډانې ځخه بهر شي. هسې چې دانګريزځواک دماتې سره مخامخ شو او هغه شان چې روسي زبرځواک ټوټې ټوټې شو، دامريکې امپرياليسم به هم ارومرو ترغۍ ترغۍ شي.

دافغانستان دخلکو آزادی بخښونکی سازمان(ساما) دخپل بنسټ ايښودو سره جوخت په ملي آزادی بخښونکې جګړه کې ونډه واخيست اولا تر اوسه هم پر دې اند توګه ټينګار لري. او دولسي واکمنۍ او خپلواکۍ دلاس ته راوړلو پورې او همدا ډول دزبيښناک او پوړييزو توپيرونو دتري تم کيدو تر مهاله د«ساما» هلې ځلې، هڅه او هاند به په کره توګه پايښت ولري...

مړه دې وي نړیوال امپریالیستان!

مړه دې وي خاینې مرتجعیین او دپردو گوډاگیان!

ژوندی دې وي زمونږ دخلکو آزادي بخښونکی خوځښت!

مړه دې وي ټول یرغلگر ښکیلاکگران!

«یا مرگ یا آزادي!»

**دافغانستان دخلکو آزادي بخښونکی سازمان(ساما)**

**(د١٣٩٦کال دمرغومي میاشت)**